ډاکټرعبدالرحمن زماني
د ۲۰۲۰ کال د مې ۱۷

# د يوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کيدو د معما په هکله:
# پنځمه برخه – د ببرک زي کورنۍ د شک، ويرې او غچ قرباني

کله چې سردار محمد نادر خان د کابل پر تخت کښيناست نو د ببرکزي د کورنۍ پخلا کولو هڅه يې وکړه او په نتيجه کې د لنډې مودې سرخت څخه وروسته د هغوی اړيکې بيرته عادي او ښه شول.

د افغان ليکوال او څيړونکي ښاغلي ډاکټر سيد عبدالله کاظم په وينا «د غازي شاه امان الله د سلطنت د سقوط او سقوي (۹) نه مياشتني حکومت د ټکولو نه وروسته کله چې دغه [د محمد نادر خان او ورونو] کورنۍ د افغانستان سلطنت ته لار ومونده، نو د سلطنت طرز يې هم يو خانداني سلطنت وچې ټول قدرت او ستر مقامونه د کلونو دپاره د همدې خاندان د غړو په ولقه (انحصار) کې وو او کورنۍ ګټې تر نورو ټولو ګټو لوړې وی».[1]

«محمد نادر شاه د هغو تجربو له مخې چې له اماني رژيمه يې ترلاسه کړې وې، هڅه وکړه چې له يوې خوا د مذهبي مشرانو او مخورو ديني علماوو او له بلې خوا د قامونو د مشرانو او اثر رسوخ لرونکو قومي شخصيتونو سره ، البته تر هغو چې د پاچا او د هغه د کورنۍ اطاعت وکړي، جوړ جاړی ته ورسيږي».[2]

«د قامونو د مشرانو او مخورو سيمه ييزو او قومي شخصيتونو موضوع هم کټ مټ د [مذهبي مشرانو او ديني علماوو] څخه د ګټې د اخيستلو په شان وه. تر څو چې به هغوی د دولت خبره منله، دولت به هغوی ته په خپل تشکيل کې ځای ورکولو، او د هغوی سيمه ييز او قومي حيثيت به يې زياتولو... د ملي شورا او مشرانو د جرګې د سوچ او فکر هدف دا وو چې د قامونو مشران او مخور سيمه ييز او قومي شخصيتونه مشغول وساتي تر څو هغوی د خپلو سيمو څخه مرکز ته راولي، په يو ډول يې تر څارنې لاندې ونيسي، او د دې ترڅنګ دولتي چارو کې په ګډون سره هغوی د دولت په تنخوا خورو بدل کړي. په دې ډول ليدل کيږي چې د سلطنتي کورنۍ په لاس کې د قدرت راټوليدل او د دغه کورنۍ د ګټو تامين د رژيم د ټولو اهدافو او اقداماتو په سر کې ځای ونيولو».[3]

د غازي ببرک خان يوه زوی زمرک خان ببرکزي ته د اعزازي نايب سالارۍ او دوو نورو زامنو ته د دولتي دندو او عسکري منصبونو او کورنۍ ته په کابل کې د اوسيدو د کورونو دپاره د اوسني ببرک چمن په سيمه کې د شل جريبه ځمکي ورکول هم د محمد نادرشاه د کورنۍ د همدغه يادې شوې پاليسۍ يوه ښه بيلګه ده.

---

[1] . کاظم، سيد عبدالله (۲۰۲۰) . رويداد های عمده در دوره صدارت شاه محمود خان غازي، ۱۸مخ .
[2] . همغه ځای، ۲۷ مخ .
[3] . همغه ځاي، ۲۹ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

**په لویه جرګه کې د زمرک خان ځدراڼ وینا او د خانداني حکومت د شک او ویرې پیل**

د ببرک زي کورنۍ سره د محمد نادر شاه د خانداني حکومت روابط هغه وخت ترینګړي شول کله چې دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال د ۱۹۴۱ کال د نومبر په لویې جرګې کې د زمرک خان ببرکزي وینا نه یواځې د هاشم خان صدراعظم پلانونه شنډ او تر یوې اندازې په اوبو لاهو کړل، بلکې صدراعظم د هغه د ولسي او قامي حیثیت څخه ویره احساس کړه او هغه یې د خپلې کورنۍ د حکومت د پاره داسې ګواښ وګڼلو، کوم چې د زغملو وړ نه و.

دا چې دا لویه جرګه د څه د پاره رابلل شوې وه، د هاشم خان صدراعظم پلانونه څه وو، او د زمرک خان ببرکزي دریځ او وینا څه اثر درلود، د هغه وخت د حالاتو په هکله یو څو کرښې معلوماتو ته اړه لري.

دوهمه نړیواله جګړه د ۱۹۳۹ کال د سپتمبر په میاشت کې پیل او د ۱۹۴۵ کال د سپتمبر تر میاشتې روانه وه. پدې جګړه کې چې د نازي جرمني لخوا پر پولنډ باندې د یرغل په ترځ کې پیل شوه، د محور ځواکونو (جرمني، ایټالیا او جاپان) او متحدینو ځواکونو (د امریکې متحده ایالتو،بریتانیې ،فرانسې اوشوروي اتحاد) ترمنځ په اروپا، افریقا او آسیا کې د وسله والې نښتې په ترځ کې ۶۰-۷۰ میلیونه انسانان ووژل شول. نوموړې جګړې د نړۍ پر سیاست، اقتصاد او پوځونو باندې مهمه آغېزه درلوده، او افغانستان او سیمه هم ددغې اغیزې نه بې برخې نه وه. د هاشم خان د صدارت د دورې ترټولو ستره ستونزه هم دا جګړه او پر افغانستان د هغې اغیزې وې.

محمد هاشم خان باندني سیاست کې په یو اړخیزه توګه د انګریزانو سره د دوستۍ او پر هغو د ډاډ لاره خپله کړې وه، او په عملي توګه یې د هغوې احکامو او مشورو ته غاړه ایښې وه. له همدې امله یې د شوروي اتحاد سره د اړیکو د ښه کولو څخه ډډه کوله. خو د آلمان، ایټالیا او جاپان سره، چې وروسته په محور هیوادونو بدل شول، ښه او د ملګرتوب سیاسي او تجارتي اړیکې درلودلې.

له تاریخي پلوه افغانستان د محور هیوادونو د پاره هم خاص ستراتیژیک ارزښت درلود او دوې کولې شول په هند کې د انګریزانو موقعیت د کمزوري کولو د پاره د غه هیواد نه د یوې اډې په توګه کار واخلي. لکه څرنګه چې د لومړنۍ نړیوالې جګړې په ترځ کې افغانستان ته د نیدر مایر تر مشرۍ لاندې د جرمني هیئت راتګ او د خپلو نقشو په تطبیق کې د امیر حبیب الله خان د ملګرتوب د لاسته راوړلو هڅې وشوې، د دوهمې جګړې په ترځ کې دا هڅې یو ځل بیا پیل شوې، او اصلي موخه یې په آزاد سرحد کې د قبایلو خوځول او د بریتانوي هند دننه د پاڅون کوښښ وو.

د دوو نړیوالو جګړو په منځ کې د آلمان او افغانستان روابط، کوم چې د غازي امان الله خان د واکمنۍ په موده کې د افغاني شاګردانو او کادرونو په روزنې او ځینو پروژو په پلي کولو سره پیل شوي وو، افغانستان سره د اقتصادي مرستو په زیاتولو نور هم زیات او ټینګ شوي وو. د تودت ملکي او پوځي ساختماني اداري Organisation Todt لخوا د پلونو او سړکونو د جوړولو، د زیمنس او تلفونکن لخوا د مخابراتو د عصري کولو، افغان پوځ ته د وسایلو او تجهیزاتو د برابرولو، کابل ته د لفت هانزا د منظمو پروازونو تر سره کیدل، د انکشافي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پروژو د تمویل دپاره د (۵۵) پنځه پنځوس ملیونه مارکو د لس کلني قرضې ورکول، او په ۱۹۳۵ م کال کې د نساجۍ په صنایعو، برق او نورو پروژو کې (۱۵۰) یوسلو پنځوس آلماني متخصصینو استخدامول د دغو روابطو په پراخولو کې ونډه درلوده. نو د جګړې په وخت کې افغانانو د آلمانیانو سره خاصه مینه او د همدردۍ احساس درلود.

کله چې د دوهمې نړیوالې جګړې اور بل شو، نو هم د افغانستان خلکو او هم حکومت فکر کولو چې د محور هیوادونو ځواکونه به بریالي شي . لدې امله د افغانستان ځینې سیاسي شخصیتونه او عام ولس د محور هیوادونو او په خاصه توګه د جرمني په بریالیتوب خوښي ښکارندوله. پردې سربیره د حکومت دننه هم د سردار شاه محمود خان، سردار محمد داؤد خان او عبدالمجید خان زابلي په شان جرمني پلوه ډله موجوده وه.

سردار هاشم خان سره د خپلې کورنۍ د واکمنۍ د ساتلو فکر و. هغه له همدې امله د پردې تر شا د چل – ول، پله بینۍ دوه مخیزه پالیسي لوبوله، هم یې د انګریزانو سره خپل اړیکي ساتل او هم یې د جرمنیانو سره اړیکي نه خرابول، او کتل یې چې کوم لوری به بریالي کیږي. (په یوه لاس کې د دوو هندوانو د نیولو دغه سیاست ، د ناپیلتوب او بې طرفۍ د سیاست په نامه ځینو لیکوالو ستایلې هم دئ ). د همدغه سیاست په پیروۍ هاشم خان هم «په ختیزه جبهه کې د جرمني پوځونو د بریالیتوبونو تر اغیز لاندې د ۱۹۴۱ کال د جولای په پیل کې په افغانستان کې د جرمني استازي په توګه د «هینتیګ» له ټاکنې سره پټ خوښاوې وکړ»[4].

**د صدراعظم هاشم خان نه د روسانو او انګریزانو غوښتنې**

هغه چې وائي ستا د دښمن، دښمن ستا ملګرې دئ، نو پدې موده کې یو بل انکشاف هم د انګریزانو لخوا د روسانو سره د جرمنیانو او ایټالویانو پر وړاندې د ګډې همکارۍ پیل کول و.

د ۱۹۴۱ په اکتوبر کې شوروي اتحاد د افغانستان دولت ته یو یادداشت واستولو تر څو د محور هیوادونو د ورانکارو فعالیتونو مخنیوی وکړي او د هغو (۱۸۰) آلمانیانو او (۸) ایټالویانو د ویستلو لازم تدابیر ونیسي، کوم چې په افغانستان کې په خدمت بوخت دي او څو تنه یې هم د شوروي اتحاد نه وړتښتیدلي وو.

د همدې کال د اکتوبر په نهمه هم په کابل کې د انګریزانو استازي، ف. اوایلی د افغان حکومت د مشر سره وکتل او هغه ته یې ښکارنده کړه چې «په افغانستان کې جرمنیان او ایټالویان شتوالي لري چې د شمال لویدیز هند دپاره خطرناکه هلې ځلې کوي. هغه هیڅ کومې مشخصې بیلګې یادې نه کړې خو دا یې وویل چې جرمنیان او ایټالویان له امان الله او شامي پیر [محمد سعدی الګیلاني] سره تړاو لري»[5].

« د ۱۹۴۱ کال د اکتوبر په دیارلسمه، ف اوایلي د هاشم خان ماڼۍ ته وروبلل شو. سربیره پر ده هلته پوځي وزیر او د باندنیو چارو وزیر هم حاضر وو. هاشم خان د انګریزانو سفیر ته وویل چې هڅه کوي د دریو میاشتو په بهیر

4 . تیخونوف (د محمد طاهر کاني ژباړه) ، (۲۰۰۴). د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه – جرمني پوځي ښارګري د شوروي ښارګرۍ پر وړاندې، ۱۸۶ مخ .
5 . هماغه ځای، ۲۲۸ مخ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کې د آلمان او ايټاليا استازي وباسي. سفير د يوې مياشتې په موده ټينګار وکړ هاشم خان هم اړ وت چې ورسره خوښاوې وکړي، خو يو ځل يې بيا وويل چې ددې مسئلې په باره کې به وروستۍ پريکړه لويه جرګه کوي.

دا مسئله د انګريزانو لپاره کيداى شوه چې بدې پايلې ولري. هغوې پدې ډير ښه پوهيدل چې افغانان د دوې پر وړاندې څه ډول چلند کوي ، ځکه خو ډاريدل چې لويه جرګه به د جرمني او ايټالوي اتباعو ايستنه ونه مني»[6].

**لويه جرګه او د زمرک خان ببرک زي وينا**

هاشم خان او خانداني حکومت دا توان نه درلود چې د خلکو د نظرياتو او احساساتو په خلاف د جرمنيانو او ايټالويانو د ويستلو په هکله په ښکاره د انګريزانو طرفداري وکړي. دا ځکه چې له يوې لورې د لومړۍ نړيوالې جګړې راهيسې جرمنيان د انګريزانو د دښمن په توګه د افغانستان په ګوټ ګوټ کې تر يوې اندازې مشهوره شوې او محبوبه شوي وو ، او له بلې لورې د يوې لسيزې راهيسې خلکو د موجوده رژيم نه کرکه او نفرت پيدا کړې او د مناسب فرصت په انتظار وو[7].



غازي زمرک خان ببرکزی

« د ۱۹۴۱ کال د نومبر په لومړۍ په کابل کې لويه جرګه جوړه شوه، په هغې کې هاشم خان په ډيرو ستونزو سره وکولې شو چې وکيلان په دې راضي کړي چې [ له افغانستان څخه ] د جرمني او ايټاليا د اتباعو د ويستلو پريکړه ومني. د دې لپاره چې د هاشم خان دلايل څه ناڅه درانه وي، انګريزانو د وکيلانو د لپاره هغه ته لس مليونه افغانۍ ورکړې. همدا راز ژمنه يې وکړه کله چې د جرمنيانو لومړۍ ډله له افغانستان نه ووزي، وروسته له هغه به افغان حکومت ته (۵۰۰ زره فونټه سټرلينګه [ پنځه لکه سټرلينګ پونډه ] ورکوي. خو دغو تدبيرونو هم نشو کولې دا ګرنټي کړي چې په لويه جرګه کې به د سرحدي قبايلو استازي سختې برتانوي ضد ويناوې ونه کړي.

خو لکه څنګه چې انګريزانو اټکل کړی و ، **څوک په دې ونه توانيدل چې په لويه جرګه کې دې د پښتنو قبايلو د استازو د برتانوي ضد ويناوو مخنيوی وکړي . په تيره بيا د ځدرانو د قبيلې د مشر زمرک خان وينا انګريزان ډير انديښمن کړل . هغه د ټولو وکيلانو په وړاندې په ډاګه اعلان کړه چې د ضرورت پر مهال دې ته چمتو دی چې د انګلستان پر ضد ۲۰ زره جنګياليان جګړې ته راوباسي او کولې شي د يوه کال په اوږدو کې د دغو شلو زرو کسانو د وسلې د سمبالتيا، خوراک او پوښاک او نورو ټولو ضرورت وړ توکو لګښت له خپلو ځاني (شخصي) پيسو څخه ورکړي.**

---

6 . هماغه ځای

7 . غبار، غلام محمد (۱۹۹۹). افغانستان در مسير تاريخ (جلد دوم)، ۲۰۲ مخ .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ځدرانو ځمکې او سیمه له وزیرستان سره همپولې وې، او په هند کې بریتانوي چارواکي په دې پوهیدل چې د ایپي فقیر [8] له لښکرو سره د زمرک خان د ځواکونو یو موټی کیدل به د هغوې لپاره څه ډول ګواښ رامنځته کړي» [9]، [10].

که څه هم د ځینو وکیلانو له غوسه ناکو ویناوو سره سره لویې جرګې له افغانستان څخه د جرمني او ایټالوي اتباعو د ایستلو په اړه د هاشم خان کړنه ومنله، خو لږ تر لږه ددوې مصئونیت او خپلو هیوادونو ته صحیح او سلامت رسیدل د شوروي اتحاد او انګریزانو لخوا تضمین شول.

**د خانداني حکومت پلمې او د زمرک خان د کور ناخاپي تالاشیانې**

د محمد نادرشاه د پادشاهۍ له پیله د خانداني حکومت ټول کوښښونه د واکمنۍ ټینګولو، د استبدادي قدرت تمرکز او د هیواد کورني امنیت ته متوجه وو. هغوې له هماغه لومړنیو ورځو له یوه پلوه د لیونو په شان د آزادي غوښتونکو استعمار ضد ځوانانو په وژلو او ټکولو پیل وکړ، او له بل پلوه یې د غازي امان الله خان او د هغه د مینه والو او پلویانو د نوم او نښان له منځه وړلو دندې ته د خپلو کارونو په سر کې ځای ورکړ. نادر خان په افغانستان کې د خپلې دیرش کلنې کاري تجربې په درلودلو او د افغاني ټولنې او خلکو د خصوصیاتو په پیژندلو سره د خپلواکۍ د جګړې غازیان، هیواد پاله کورنۍ، روښان فکران او مشروطه غوښتونکي پیژندل، او داسې ځواکونه ورته د زغم وړ نه وو کوم چې ددوې د کورنۍ سلطې ته ګواښ ګڼل کیدای شو.

د ډاکتر سید عبدالله کاظم په وینا « د شاه امان الله له پلویانو ویره او د هغه د بیرته راتګ احتمال د تصفیه کولو[وژنو] ، زندان ته اچونو او جلا وطنه کولو تر ټولو ستره انګیزه وه. په یوې تش په نامه محکمه کې پر محمد ولي خان او محمود سامي د حکم صادرول، د شاغاسي خیلو د لویې کورنۍ جلا وطنه کول، د غلام نبي خان چرخي وژل او د هغې د کورنۍ د غړو بندیانول، په برلین کې د [ سردار محمد داؤد خان د پلار] محمد عزیز خان د وژلو انګیزه څه ګواکې د غازي امان الله خان پلوي سید کمال و، او هم د انګریزانو په سفارت د محمد عظیم اقدام، ټول یو پر بل پسې د شاه امان الله د بیرته راستنیدو څخه د ویرې نښې وې»[11] .

---

[8] . ایپي فقیر (میرزا علي خان) په وزیرستان کې له هغو مبارزینو څخه و چې د ژوند تر پایه پورې د انګرېزي استعمار او د پاکستان له جوړېدلو څخه وروسته د هغه حکومت سره مخالف پاتې شو او د ژوند تر پایه پورې یې له هیڅ قدرت سره داسې سودا ونه کړه چې د ده خپلواکۍ ته لږ تر لږه زیان ورسوي. هغه په داسي وخت کې د انګرېزانو پر ضد د جهاد ږغ پورته کړ چې په اروپا کې د دوهم نړۍ وال جنګ د پیل کېدلو آوازې خپرې شوی وې او انګرېزان په اروپا کې له ستونزو سره مخامخ و. د ایپي فقیر لښکرو پر انګرېزانو باندې په وړو او لویو حملو کې د هغوی پوځي قواوې په څو جبهو کې په جنګي عملیاتو کې راګیر کړې وې . یو ځل خو نږدې وو چې د وزیرو د جنګي عملیاتو لمنه د افغانستان جنوبي سیمو ته هم پراخه شي، چې صدراعظم هاشم خان یې په ډېره سختۍ مخه ونیوله . د وزیرو لښکرو په عامه نارې وهلې چې د افغانستان حکومت له انګرېزانو سره د هغوی د جهاد په مخ کې خنډونه اچوي. ایپي فقیر د نادر خان او د هغه د ورونو د حکومت سره سخت مخالف و. هغه په دې عقیده وو چې نادرخان د انګرېزانو په مرسته قدرت ته رسېدلی دی . ایپي فقیر په ښکاره د اعلیحضرت امان الله خان د بیرته پاچا کېدلو لپاره چې ده د انګرېزانو پر ضد د یوه غازي په سترګه ورته کتل، تبلیغ کاوه. په کابل کې د هاشم خان حکومت هم د ایپي فقیر تبلیغاتو او روحاني او پوځي نفوذ سخت وارخطا کړی و. ( د زیاتو معلوماتو دپاره د ښاغلي عبدالباري جهاني «داپيي فقیر، د آزادۍ د لارې مبارز» مضمون وګورئ).

9 . تیخونوف (د محمد طاهر کاڼي ژباړه) ، (۲۰۰۴). د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه – جرمني پوځي ځارګري د شوروي ځارګرۍ پر وړاندې، ۲۳۰ – ۲۳۴ مخونه .

10 . د شوروي اتحاد د باندنیو استخبارارو سرویس، د قبایلو دوسیه، لومړی ټوک، ۲۷۶ مخ د یوري تیخانف د نبرد افغانی استالین په حواله.

[11] . کاظم، سید عبدالله (۲۰۲۰). رویداد های عمده در دوره صدارت شاه محمود خان غازی، ۳۳ مخ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په لویه جرگه کې د زمرک خان ببرکزي وینا سبب شوه چې خانداني حکومت او سرکې یې محمد هاشم خان دا غوټه په زړه کې ورته وساتي او د غچ اخیستلو پلمې او لارې چارې ورته وسنجوي. د دغو پلمو په ترڅ کې دوه ځله خپله د سردار داؤد خان لخوا ، هغه وخت چې د قوای مرکز قوماندان و ، د زمرک خان ځدراڼ د ځایونو ناڅاپي تالاشي هم شامله وه.

د ببرکزي د کورنۍ د یادښتونو په حواله «کله چې سردار محمد هاشم خان د هیواد صدراعظم و ، یوه ورځ ناڅاپه مازیگر مهال سردار محمد داؤد خان په خوست گیډوره کې د زمرک خان ببرکزي کور ته ورغی. زمرک خان په بیړه مازیگرني خواړه ورته برابر کړل او دده مخې ته یې کېښودل، خو سردار محمد داؤد خان ورته وویل زه علاقه لرم تر هر څه دمخه یو ځل ستاسو باغ وگورم ځکه ما یې ډیر صفتونه اوریدلي دي. نائب سالار زمرک خان ببرکزي ورته وویل سردار صاحب تاسو ډیر ستړي یاست او اوږده لاره مو وهلې ده لږ څه دمه وکړئ، چاې وڅښئ او خپله ستړتیا رفع کړئ، د باغ لیدل خو ستاسې په مخ کې دي، هغه به هم وگورئ. خو سردار محمد داؤد خان ورته وویل نه، نه، تر هر څه دمخه یو ځل باغ گورم او د باغ په لیدلو خپله ستړتیا رفع کوم بیا خو چاې او ناشتا زمونږ په مخکې پراته دي.

نایب سالار زمرک خان له خپلو نورو ورونو سره یو ځای باغ ته ورسره ووت. سردار محمد داؤد خان د باغ د ځینو بوټو او گلونو تر لیدو وروسته مخامخ د ځمکې لاندې دیوې جوړې شوې کوټې دروازې ته ودرید او د زمرک خان څخه یې وپوښتل چې دا کوټه د څه لپاره جوړه شوې ده؟ زمرک خان په ځواب کې ورته وویل پخوا به د گرمۍ پر مهال موږ کله کله په دې کوټه کې ځملاستو ځکه چې ډیره سړه کوټه ده، خو اوس دوه درې کاله کیږي چې د گرمۍ په موسم کې پاس غره ته خیږو. سردار محمد داؤد خان ورته وویل زه غواړم دغه سړه کوټه په داخل کې وگورم، په کوټه پسې غټ قلف پروت و او د قلف کلي هم خدای (ج) خبر چې د کور په کوم ځای کې ایښې وه، خو زمرک خان خپل ورور شیر محمد خان ته وویل ولاړ شه په منډه د قلف کلي راوړه، خو د کلي په پیدا کولو کې لږ ځنډ راغی. نو زمرک خان وویل قلف مات کړئ، په دې ترتیب د کوټې دروازه خلاصه شوه. سردار صاحب ولیدل چې د کوټې په هر لوري کې د غنو جالونه خواره دي او د ورننه کیدو امکان نه شته، نو سردار صاحب خپل ملگري منصبدار ته وکتل او د چایو څښلو له پاره کیناستل...سردار محمد داؤد خان له خپلو ملگرو سره شپه تیره کړه او د سهار چاې تر خوړو وروسته چې دباندې راووتل سردار صاحب د خپلو ملگرو له جملې څخه یوه نظامي منصبدار ته وویل د زمرک خان د غره کلا زمونږ پر نظامي چونۍ باندې ډیر حاکمیت لري او هره گړۍ کولای شي زمونږ قواووې تر گواښ لاندې ونیسي»12 .

د سردار محمد داؤد خان لخوا شخصاً د زمرک خان د غره د کلا د تالاشۍ کیسه هم د اروابناد مومندي صاحب له خاطراتو نه راخلم. مومندي صاحب لیکي چې «دا کیسه ماته هو به هو شیر محمد ځدراڼ د ببرک خان ځلورم زوی داسې وکړه : په ۱۳۲۰ کال کې چې سردار داود خان د خوست د عسکری قطعاتو د لیدو لپاره خوست ته

---

12 . غروال، محمد عارف . د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۴۸-۱۴۹ مخونه

راغي نو د خوست په لاره کې زمرک د هر کلي لپاره له کوره راوتلی وا و د سرک په غاړې ورته ولاړ و. داود خان ته ئي د غرمنۍ بلنه ورکړه. داود خان هم دده خبره په څمکه ونه غورځوله او دده ست ئي په ډېره خوښي ومانه. د غرمنۍ له خوړلو وروسته زمرک له خپل پلرنۍ دود سره سم يو پطنوس طلا د داود خان مخې ته کېښوده او يو پطنوس ئي عسکرانو ته ور وړ. داود خان ورته وويل، دا پطنوس عسکرانو ته ور کړې. زمرک ورته وويل: سردارصاحب دا ستاسې برخه ده عسکرو ته مې بېله برخه ورکړې ده.

شير محمد خان وويل، په دغه وخت کې د داود خان ټنده ډېره تروه شوه او په ډېر کراهيت يې د زمرک سوغات و مانه. د ډوډۍ له خوړلو وروسته سردار يو وړانديز زمرک ته وکړ چې که امکانات وی چې د مرحوم ببرک خان په لاس جوړه شوی د غره کلا هم وګورو نو به بده نه وي. زمرک د دغه وړانديز هرکلی وکه زمرک تر مخ او داود خان له خپلو نورو ملګرو سره ورپسې د غره د کلا په لور وخوځيدل کله چې کلا ته ور پورته شو نو ئې وويل :د دی کلا او د شاهی ارګ د کلا له ورته والی نه دا څرګنديږی لکه دواړه چې يوه معمار جوړی کړې او يوه مهندس نقشه کړې وی. ټوله کلائی ښه وکتله خو کله چې د کلا د زير زمينی دروازی ته ودريد نو وی وپل چې د دی قلفونو کليانی له چا سره دی ليدای ئی شو او که نه ؟

زمرک ورته وويل چې موږ ته پلار دا وصيت کړی و چې دغه دروازه به نه خلاصوي او تر اوسه پوری په دغه دروازه زما ورونه هم نه دی ورننوتي ، د سردار د وچولی په ګونځو کې څو نوری ګونځې هم پيدا شوی او له کلا راښکته شو نو له زمرک سره ئی په مخه ښه وويل او د خوست لاره ئې ونيوه» [13].

**د زمرک خان د کور کلي پريښودو ته د مجبورولو دسيسه**

اروابناد محمد ايوب مومندي په خپلو خاطراتو کې د « زمرک خان ولی په بغاوت تورن شو؟» تر سرخط لاندې پدې هکله ليکي:

« زمرک ځدراڼ د ببرک ځدراڼ مشر زوی و او نه يوازې دا چې د ځدرانو د کام مشر و بلکې په ټوله پکتيا کی ده او دده کورنۍ ته پکتيا والو په درنه سترګه کتل او دی يې د ټولی پکتيا مشر باله. په ۱۳۲۱ل کال کی آوازه شوه چې زمرک خان ياغی شويدی خو دغه خبره د هغه چا دپاره د منلو وړ نه وه چې دی يې له نږدې پيژانده ځکه نه يوازې ده بلکی د مرحوم ببرک خان د کورنۍ ټولو غړو د ضرورت په وخت کی هېواد او هيوادوالو ته ډېر تاريخی خدمتونه کړی و د خپلواکی په جګړه کی ده په لومړی سنګر کی د يوه زمری په څير انګريزانو ته خپله سينه سپر ګرځولی وه او حتی لا تر ننه پورې هغه پخه تاڼه چې ده جوړه کړې وه د ببرک د تاڼی په نوم يادېږی، ددغی تاڼی ټول لګښت او د ساتونکو تاڼه دارانو معاشونه پخپله ببرک خان او بيا ئی مشر زوی په غاړه اخستی و .

اوس به نو راشو دی کيسی ته چې زمرک ولی په بغاوت تورن شو او ولی له هيواد نه وتلو ته اړ باسل شو.. په دی وخت کی د خوست عسکری قوماندان او لوی ولسوال ډګرجنرال فيض محمد خان نوابي "و او هغه (تازه ګل خان د تڼيو د ولسوال په حيث ټاکلی و تازه ګل خان د نادر خان د حکومت په وخت کی د هغو خدمتونو په پاس

13 . د اروابناد محمد ايوب مومندي د ژوند خاطرې (ليدنې اوريدنې)، د توريالي ځاځي په زيار، ۱۲۴ او ۱۲۵ مخونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې ئې له فیض محمد خان سره په یوه سنګر کې کړی و خو کله چې ئې دوستانو ته په یوه متقابله جګړه کې زیات مالي او ځاني تاوان رسولی و ددفاع په وزارت کی محاکمه او په پای کی له عسکری مسلکه ترد شو ) تازه ګل خان چې یو ډیر زړور او سرتیری شخص و نویې د ځدرانو د هغی قافلې مخه نیولی وه چې مخ په پاکستان روانه وه او د چارتراشو لرګی ئی لیږدول . د قافلې وسله والو ځوانانو هرڅومره چې په کلکه غوښتنه کړې وه چې دغه قافله خو له کلونو کلونو نه په همدی د ره روانه ده ځکه موږ خو د ځدرانو په وچو غرونو نه د کر کروندی ځمکی لرو او نه نور کوم تجارت لرو له همدی لاری نه خپلی خیل خانی ته روزی برابروو که دا لاره را باندی بنده شی نو زموږ او لادونه خوله لوږی مری چاره موڅه ده؟

خو تازه ګل خان د دوی خبرو ته غوږ نه و نیولی او خپلو وسله والو عسکرو ته ئی امر کړی و چې د قافلې مخه ونیسی. عسکرانو هم د قافلې مخې ته وردانګلی خو وسله والو ځدرانو د هغو مخه نیولې وه. په دغه وخت کی د قافلې نورو برخه والو ولسوال ته ویلی چې ته خو پښتون ځوان ئی راځه دلته به سره جرګه شو. د جرګی په نوم ټول تری را تاو شوی او له هری خوایی په ده د چوړکیو ګذارونه کړی او دی یی له پښو غورځولی و. په دغې پیښه کې دوه تنه ځدراڼ او دری تنه عسکر وژل شویدی .

په سبا د عسکری کلوپ په لوی سالون کې د وژل شویو عسکرو دعا اخیستل کیده. زمرک خان هم د فاتحی په مجلس کی د ګډون لپاره ورغلی و

په دغه وخت کې فیض محمد خان د خوست والي او عسکری قوماندان ویلی و ( خداوند تازه ګل خان و عسکران شهید را در جنت مکان برجسته نصیب ګرداند و ځدرانهائیکه مردار شده اند جای شان دوزخ برین است ) د فیض محمد خان خبرې په زمرک ښې نه وی لګیدلی ځکه وژل شوی ځدارن دده نږدی کامی کسان و او د هغوی له پاره ئی ددوزخ غوښتنه نه وه زغملی او په ځواب کی نی ویلی وه : خدای دی تازه ګل او عسکران وبښی او د ځدرانو پاتې کسانو ته دی هم خدای صبر ورکړی .

خو فیض محمد خان دغه جمله څو څو ځله تکرار کړی وه چې د ځدرانو ځای دوزخ دئ، خدای دی هیڅ کله هم ونه بښی . په زمرک دغه خبری ښې نه وی لګیدلی نور څه ئی و نه ویلی او غونډه ئی پریښی وه او دخپل کور مخه ئی نیولی وه .

داود خان او فیض محمد خان دواړه دیوی همداسی ورځی په انتظار کی وه چې زمرک ته یوه بهانه جوړه شی څو له ولسی قدرته ولویږی او حکومت هم [ترې] سوال[و] کړل شی.

دلته ئی یو ډیر تکړه مخبر ګمارلی و چې ده ته یوه داسی دسیسه جوړه کړی چې یی ارتباط او اړیکی د امان الله خان له وړور سره چې په وزیرستان کی ئی د حکومت پر ضد فعالیت کاوه او د امین پک په نامه یادیده .

مخبر د امین له خوا یو لیک د زمرک په نوم برابر کړی او زمرک ته ئی راوړی و. په لیک کی ئی داسی څرګنده کړی وه چې زموږ او ستاسی د کورنۍ ترمنځ خوله ډیری پخوانه ډیر ښه روابط او دوستانه مناسبات ټینګ و او زما وړور ستاسی له پلار سره چې د خپلواکی په جګړه کی ئی فعاله برخه اخستی وه ډیر کومکونه کړی و. نن چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زه د هغه غازي پاچا ورور د وزیرستان په غرونو کی ژوند کوم ستاسی کومک ته زیات اړ یم او ته باید له ما سره هر راز کومکونه وکړی .

مخبر چې دغه راز یو خط لیکلی او بیا ئی په ترلی او مخصوص پاکټ کی زمرک ته راوړی او کاتب ئی سر خلاص کړی او ورته لوستی ئی دی، نو خپل لیکونکی ته یي لارښوونه کړی چې د پک د لیک په ځواب یی ورته ولیکه چې زه او زموږ د کورنۍ ټول غړی اوس هم د غازی امان الله د کورنی غړو ته په ډیر احترام ګورو او هر وخت چې زموږ له وسه وشي نو به خپله مرسته له تاسی نه نه سپموو په مکتوب کی یي ډیری نوری ښی د دوستی خبری هم ورته ولیکلی او هغه یي په پاکټ کې ونغښتی او مخبر ته ئی په لاس ورکړی چې امین ته ئی وروړی او څو کڅوړی طلاوی ئی هم د مخبر په لاس امین ته ولیږلی چې د طلا له کڅوړو نه مخبر هم خپله ښه [برخه] کړې او پاتی ئی حکومت ته له لیک سره سپارلی دی .

په دي وخت کې فیض محمد خان خپل مبارک شاه نومې ډریور چې یو نمک شناسه شخص و په زمرک پسی ورلیږلې چې رایې ولي او ده ته ئي په تیلفون کي هم ویلي و چې که ته یو ځل راشي چې د ببرک د تانې پخه ودانۍ له خپله ځایه یوي لوړي او هسکې څوکې ته رانقل کړو او ستا مشوره په دي برخه کې موږ ته زیات ارزښت لري .

دئ چې له مبارک شاه سره په موټر کې کنبیناستلی او د خوست پر لور روان شوي نو مبارک شاه لوګري چې تل ئي د ببرک د کورنۍ له خوا ښې خاطري له ځانه سره لرلې، ده ته په ژړغونکی لهجه ویلي چې نائب سالار صاحب ! زه پوهیږم چې تا ته کومه دوسیه جوړه شوي او غواړي چې تا له منځه یوسي او یا خو دي هم ښه تورن کړي .

ده مبارک شاه ته ویلی چې ما بیرته خپل کور ته ورسوه. بیرته چې کور ته راغی او غوښتل یې چې د وخت له پاچا سره وغږیږي او د داود خان او د خوست د لوې ولسوال د دښمنۍ نیت ورته روښانه کړي خو چې د تیلفون غوږ نه ئي واخست ګوري چې د تیلفون لین ئي پخوا تر پخوا قطع شوی او د المري غونډ مشر میر نادرشاه اطلاع ورکړی چې زمرک که نن وي او که سبا په غونډ به برید و کړي او بیا به خوست محاصره کړی .

له خوسته میر نادر شاه ته امر ورکړ شوی و چې په کوزه کلا باندی ئی عسکران ورمارش کړه. په دی وخت کی زمرک د غره لوړی کلاته ختلی او شیر محمد بی په کوزه کلا کې (چې غنډ ته مخامخ پرته ده ) پروت دی خو چې د غونډ کوزي پاسی ئی لیدل نو ده هم ځان برابر کړ چې غره ته وخېږي خو مخکی تر دی چې له کوره وتلی او د غره لاره ئې نېولی وی نادر شاه خان له څو عسکرو سره له سیند نه ورتیر شوی او کلا ته ورننږدی شویدی، شیر محمد غږ پری کړی چې پوه شیبه وخت راکړي چې دا خپلی ښځینه تر بری کلا پوري ورسوو خو نادر شاه چې یو مغرور سړیوو شیر محمد خبرې ته ئې غوږ نه و نیولی نویې عسکرانو په ډزو پیل کړي او دي په خپله هم پسي راوتلي او غږ یې پری وکړ چې زه دی ژوندی ښکار کوم په دی وخت کی شیرمحمد په ولاړو باندی ډزې پری کړي او په خوله کې ېی ویشتلی او څو نور عسکر یې هم د سیند په اوبو کې ټپیان کړي او له خپلو بالو بچو سره د هسکی کلا لورته رهی شویدی . [وژل شوې نادر شاه خان هغه کس دئ چې د نادر شاه کوټ چونۍ یې اوس په نوم یادیږي -زماني].

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په دی وخت کی شیر [محمد خان] ته دومره وخت پیدا شوی و چې له خپل بال او بچ سره د غره په لور وخوځېږی خو کله [چې] د غره کلا ته رسیدلی و نو زمرک خپله تومانچه پری راویستلی وه چې تا ولی په عسکرانو ډزونه وکړل ما خودرته ویلي و چې مونږ هیڅکله جګړه نه غواړو او د خپلو ورونو د وینوتویولو ته چمتوالی نه نیسو یواځی مونږ خپل سرو نه باسو او نور ټول جایداد اوسامان پرېږدو ، خو مور ئې لاس نیولی و او زمرک يې دی ته نه و پرېښی چې په خپل ورور باندی د تومانچی ډز وکړي.

د پکتیا د بیلو بیلو کامونو مشران زمرک ته ورغلل چې که غواړي جګړه وکړی نو مونږ ټول ستا ملاتړ ته ولاړ و او هره ګړی چې ته وغواړی مونږ ته د مرستی لاس را اوږد کړی نو ټول ګوتی په ماشه ستاپلویان یو، خو زمرک د دوې د همدردی او پلویتوب نه خوښی او مننه څرګنده کړه او له دوی نه ئې وغوښتل چې تاسی له ما سره دومره کومک وکړی چې له خپل بال وبچ سره روغ له پولی هاخوا واوړم او نه غواړم چې د یو چا پوزه قدر هم ټپی شی. د ځدرانو د بیلو بیلو کامونو په لارښوونه په سل هاو اوښان آسونه او کچری د زمرک د غره د کلا دروازی ته لیکه ودریدل .

زمرک خپل کالی مالی بار او د تڼیو له لاری د پاکستان [دا وخت لا پاکستان جوړ شوې نه و ، د لیکوال مقصد به وزیرستان وي - زماني ] پر لور وخوځیده خو شیر محمد له دریونورو ملګرو سره څو چې د کلا ټول سامان ولېږي هلته ستون شو او کله د غره له یوي او کله له بلی څوکی نه په عسکرو ډزې کوي. خو د عسکرو لویو لویو منصبدارانو پرله پسی مرکز ته اطلاعات ورکول چې د زمرک د غره کلا او شاوخوا غرونه ټول ځدرانو نیولی او شمیر یې زرهاوو ته رسیږی او زیاتی قواوی دغه لوری ته راولیږلی خو یواخی شیر محمد له خپلو دری نورو ملګرو سره ۲۱ ورځی له منظمو عسکری قواوو سره کله د یوه غره له څوکی او کله د بل غره له څوکی و جنګیدل او په ۲۱ مې شپی هغه هم د پاکستان [وزیرستان] په لور مخه ونیوله او د جګړی اوربند شو...

د جګړی ټولی کیسی په خپله ماته شیر محمد ، کوم وخت چې دولسی جرګی غړی و ، وکړی او ما ځکه باور پری وکړ چې د زمرک د کورنۍ په غړو کی د رواغ او درب و دروه خبره د هیچا له خولی هم نه وه اوریدل شوی او دوی ټول سپین درولی پښتانه ؤ» [14].

(نور بیا )

---

14 . د اروابښاد محمد ایوب مومندي د ژوند خاطرې (لیدنې اوریدنې)، د توریالي ځاځي په زیار، ۱۲۴ او ۱۳۰ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ